# د ښاديو د بدلو ادبي څېړنه

# Literary Research of Folkloric Genre; *Da Shadio Badali*

Noor Mohammad Khan ⋆
Dr.Subhan Ullah Shahab ⋆⋆

**Abstract**

This research introduces a Folkloric Ganre of Pashto called as Da Shadio Badali. Da Shadio Badali has a spefic form which proves that it is a unique genre of Pashto folklore. The origin of this genre is from Borai, Zhob, Killa Saifullah, Ziarat and Muslimbagh (Kakaristan). It has some characteristics in its form similler to Kakarai Gharhi and Da Attan Nari as well as its lingual properties that prove its origin from the same place. This ganre is specific to the wedding cerimonies, customs and traditions relivant to marriage. According to the form it has only one type, the three line, every line of which has about eight syllables, and a third stressed syllable in each foot. If we consider the lyrics, Da Shadio Badali have so many lyrics and rhyms. Themetic side if it is limited to domestic level. Pashton women has given this genre to Pashto folklore.

**Keywords:** Da Shadio Badali,Folkloric Genre,Origin of the genre, Syllable, Stressed Syllable

## د موضوع شاليد

د بلوچستان په پښتنه سيمه کښې د وادهٔ او له وادهٔ سره په تړلو رسمونو او د وادهٔ سره تړلې د خوښيو پر موقعه د ښځمنو له خوا يو مخصوص ډول سندرې وړاندې کېږي چې د ښاديو بدلې يې بولي. د ښاديو دغه بدلې پر بېلا بېلو موقعو په بېلا بېلو اهنګونو او لکبونو کښې ويل کېږي.

د بلوچستان د سيمې فولکلورسټ پروفېسر ولي محمد سيال کاکړ د فولکلوري جواهرو په نوم يو کوشنے کتاب ليکلے دے چې په هغه کښې دوئے د بلوچستان د پښتنې سيمې فولکلوري صنف (د ښاديو بدلې) راټولې کړې دي. ژوب، بورے او سيف الله کلا هغه سيمې دي چې د شفاهي ادب ښېخي ډېرې خزانې لري. سيال کاکړ تر خپله وسه د ولس دغه ميراث را

⋆ Lecturer, Department of Pashto, University of Loralai, Balochistan
⋆⋆ Assistant Professor Shaikh Zaid University Khost

خوندي کړے دے.ښاغلي حبيب الله رفيع هم په خپل کتاب ,, د خلگو سندرې،، کښې د بدلو ذکر کړے دے.

**د څېړنې پوښتنې**

۱ . د ښاديو بدلې څۀ دي؟

۲ . د ښاديو د بدلو په نوم په شفاهي ادب کښې يو ژانر شته او که نۀ ؟

۳. د ښاديو د بدلو اره سيمه کومه يوه ده؟

**مفروضه**

د ښاديو بدلې د پښتو ژبې د شفاهي ادب يو ځانگړے ژانر دے چې د خوښيو پر موقعه ويل کېږي. د ويلو او زمزمه کولو بېلا بېل طرزونه او لکبونه لري. د ښاديو د بدلو اره سيمه د بلوچستان پښتنه سيمه ده خو اوس دغه ژانر په ټول پښتون وطن کښې ويل کېږي.

(2) **د څېړنې ميتود**

. د دې تحقيق مواد به اکثره له بنيادي ذرايعو څخه تر لاسه کېږي. دا څېړنه د تجزياتي طريقه کار په لمن کښې تر سره کېږي.

**د ښاديو بدلې؛ تعارف او هيئت**

دنياگۍ گړي گړي ده..... پر چا غم پر چا ښادي ده... د دې کاکړۍ غاړې په مصداق انساني ژوند د غم و د ښادي يوه سلسله ده. د ژوند د ارتقا له لومړنيو پړاوونو را نيولې بيا تر نن ورځې پورې انسان کله له مشکل سره مخامخ وي او کله ورباندې ښه ورځ وي. کله چې انسان ته ښه ورځ نصيب شي نو دے د حالاتو په وړاندې قوت محسوسوي او هغه ساعتونه په يو مخصوص ردعمل لمانځي. دغه مخصوص ردعمل د خوښۍ او خوشحالۍ په نوم يادېږي. د نن ورځې متمدن انسان د خوښيو پر موقع نڅا کوي او سندرې وايي. بلکې اوس انسانان له سندرو څخه د خوشحالي د کيفيت د پيدا کولو کار هم اخلي. د انساني ژوند دغه سندريزې شېبې پر انفرادي کچه هم لمانځل کېږي او پر ټولنيزه کچه هم. په پښتنه ټولنه کښې هم د خوښيو دا شېبې د نر و ښځې له خوا په سندرو او خنداگانو لمانځل کېږي. د خوشحالۍ پر موقع خصوصاً د وادۀ پر وخت پښتنې ښځمنې له اتڼ او نورو خوشحاليو سره سره يو ډول خاص سندرې وايي چې دوئے يې د ښاديو بدلې بولي.

د ښاديو بدلې يو فولکلوري صنف دے چې د ښځو له خوا د ښاديو پر موقعه وړاندې کېږي.
پښتو شفاهي ادب د اصنافو په حواله خورا بډائے ادب دے، ټپه، کاکړۍ، د اتڼ غاړې، چاربيته، بانډار، د اتڼ نارې، سروکي او نور يو شمېر اصناف داسې دي چې د پښتو د شفاهي ادب پانګه يې درنه کړې ده. له هم دغه اصنافو څخه يو صنف د ښاديو بدلې دي چې د خپل جوړښت او د ويلو د موقعې په مناسبت له باقي شفاهي اصنافو څخه جلا، ممتاز او جوت مقام لري.
د ښاديو بدلې لکه څنګه چې يې نوم دے د ښاديو پر موقعه ويل کېږي. وادۀ، کوزده، د نکريزو شپه يا بله داسې موقعه چې د وادۀ سره تړلې وي په هغه موقعه ويل کېږي. دغه بدلې د جوړښت له لحاظه په بېلا بېلو سيمو کښې په بېلا بېل ډول وي. د بلوچستان په پښتني سيمه پخواني کاکړستان کښې بالخصوص ږوب، بورے، کلاسيف الله، زيارت، هرنايي او مسلم باغ کښې د ښاديو بدلې يو مخصوص جوړښت لري. دغه بدلې درې مصرعې لري چې لومړۍ او دريمه يې په قافيه کښې سره ورته او د منځ دويمه مصرعه يې له قافيې څخه ازاده وي.

ورور يـــــــــــې اوښـــــــــــکي تويـــــــــــولې
د ځوانــــــــانو رنـــــــګ يـــــــــې بـــــــــد کـــــــــځ
خونـــــــدې هـــــــــر چـــــــــا ودولـــــــــې
(سيال کاکړ، فولکلوري جواهر، (۱)

د ښاديو په بدلو کښې کله د ناوې او د زوم د کورنۍ ښځې يو بل ته پېغورونه ورکوي، کله د زوم يا ناوې ستاينه پکښې کوي او کله بيا د زوم يا ناوې د مور و پلار، ورونو، خويندو يا د نورې کورنۍ د غړو صفت کېږي. عموماً خپل لورې د کسانو صفت کېږي او مخالف لورې ته ښکنځا، پېغور يا لغاز د ښاديو د بدلو په درې مصرعه ييز صنف کښې ويل کېږي. د ښاديو بدلې لکه د نورو شفاهي اصنافو له يوه نسل څخه بل نسل ته سينه په سينه سفر کوي. په دې اړه د سيال کاکړ وينا د پام وړ ده

„ د ښاديو بدلې د پښتني فولکلور يو خورا په زړه پورې شعري ډول تشکيلوي. دغه بدلې اوسني نسل ته ښځو سينه په سينه راروسولې او اوسنے

کهول به هم دغه بدلي راتلونکي کهول ته خوله په خوله سپاري.،، (سیال کاکړ،فولکلوري جواهر، (۲)

بدلې زیاتره ښځې وايي. په عامه اصطلاح کښې په ښه غږ کښې سندرې زمزمه کولو ته هم بدلې ویل کېږي. سندرې که نر زمزمه کوي که ښځه په عام اصطلاح کښې ویل کېږي چې فلانے/فلانۍ بدلې وايي. په دې اړه د عبدالرووف بېنوا دریځ د کتلو دے؛

,, بدله په پښتو کې ځانته ځانته معناګانې لري. د کندهار په اصطلاح کې یوازې د ښځو اواز ته بدلې وايي د نارینه اوازونو ته بدلې نه وايي. د جنوبي او مشرقي او ځینې نورو پښتنو په اصطلاح کې د بدلو اطلاق عام دے. هم د ښځو او هم د نر و اواز ته بدلې ویل کېدا ے شي. ،، (بېنوا، ادبي فنون، (۳)

د پښتو شفاهي ادب دغه ژانر د ودونو پر موقع د زوم او ناوې د کورنۍ د ښځو له خوا د خپل کاله د ستاینې او د مقابل لورې د پړ کولو په خاطر ویل کېږي. لکه دا بدله چې ده؛

صـــــــندوق نــــــــه د ے صـــــــــــندوقچه د ے
د خـــــــدا ے حــــــــق ربنـــــــتیا بـــــــه ویـــــــایو
زوم تـــــــــر نـــــــــاوګي ښایســـــــــــته د ے
(مرکه) (۴)

د وادهٔ په مراسمو کښې پر بېلا بېلو موقعو په بېلا بېلو وزمونو ویل کېږي.په بنیادي توګه د ښادیو بدلې درې مصرعې لري، دغه درې مصرعه ییزه بیا پر بېلا بېلو موقعو په بېلا بېلو وزمونو له بېلا بېلو ټکو سره ویل کېږي. هم دغه ټکي بیا د دې بدلو ډولونه جوړوي، لکه نن بیا، بابولالې، خورښادي یا سر یې ورو ورو غوړویه. له دغه الفاظو سره د ښادیو بدلې د مصرعو پر طرز ویل کېږي او دغه الفاظ لکه د سروکي یا کسر ورسره ویل کېږي ځکه خو د ښادیو بدلې په بېلا بېلو نومونو نومول شوې دي.

,, بابولالې هغه مخصوصو اولسي سندرو ته وايي چې د ښځو له خوا جوړې شوې او بیا د هم دو ے له خوا مخصوص د وادهٔ د ورځو په مختلفو وختو کې ویل کېږي.،، (حبیب الله رفیع، د خلکو سندرې، (۵)

د ښادیو د بدلو له نورو شفاهي ژانرونو څخه بېلوالے ځکه هم ګران د ے چې پښتانهٔ هرې زمزمه کېدونکې سندرې ته هم بدله وايي. د ښادیو بدلې هم چونکې د ښادیو پر مخصوصه

موقعو د ښځو له خوا په ګډه زمزمه کېږي ځکه يې بدلې بولي. عين ممکنه ده چې پخوانۍ نوم يې بل څۀ وي خو اوس د ويل کېدو د موقعې او وخت او د وړاندې کېدو د انداز له کبله د ښاديو بدلې بلل کېږي.

,, پښتانۀ په عامه ژبه ټولو سندرو ته بدلې وايي، کله چې سندرغاړي ته فرمايش هم ورکوي نو وايي چې دا پلانکۍ بدله راته ووايه هو دلته د بدلې نه زمونږ مطلب پښتو غزله ده. دا يو ځانګړے جوړښت لري. د بدلې جوړښت له بګټۍ او لوبې سره په ويلو او ليکلو کې توپير لري.،، ( ازمون، پښتو فولکلوري ادبيات، (۶)

څرګنده شوه چې د ښاديو بدلې د پښتو شفاهي ادب يو ځانګړے ژانر دے چې خپل بېل جوړښت لري. پښتو ليکني ادب ته اوسنے راغلے صنف هايکو هم د ښاديو د بدلو جوړښت لري خو د هايکو ليکوال معلوم وي او دے هم اوسنے صنف مګر د ښاديو بدلې د پښتنو ښځو له خوا ويل کېږي او لکه د نورو ژانرونو د ابتدا د زمانې يې هيڅ اندازه نۀ شي کېدا ے. ځانته ټاکلے وزم او اهنګ لري. د درانۀ سېلاب ځا ے او په مصرعه کښې د سېلابو تعداد يې لکه د نورو شفاهي ژانرونو ټاکلے دے خو په هايکو کښې که مصرعې درې دي خو دروند سېلاب او د سېلابو شمېر يې ليکوال پخپله خوښه ټاکي. د بېلګې په توګه به دغه دوې هايکوګانې وګورو،

,, زمــــــــــا تيــــــــــارې خــــــــــونې
د رڼــــــــــا اندامونــــــــــــــــــه
ورو ورو واغوســــــــــــــــــــتل
يا دغه هايکو وګورئ
مياشــــــت د وريځـــــــو لـــــــه درځــــــه راګـــــــوري
د چونګښــــــــــــو منګولــــــــــــــو
اســــــمان پــــــه ډنـــــډ کــــــې چتــــــل کــــــړ ،،
( شپېلۍ) (۷)

اوس دلته موږ لیدلاے شو چې که څهٔ هم دواړه هایکو درې مصرعې لري خو د ښادیو د بدلو په څېر قافیې نهٔ لري او نهٔ یې په مصرعو کښې د سېلابو تعداد یو رنګه دے. د ښادیو بدلې خپل مخصوص جوړښت لري چې وړاندې به موږ رڼا ورباندې اچوو.

**د ښادیو د بدلو د ویل کېدو وخت او موقعه**

په انساني ژوند کښې د خوشحالیو ډېرې موقعې راځي او پر دا هره موقعه انسانان د خپلې خوشحالي اظهار په ځانګړي طرز کوي. د زوکړې خوشحالي، په تعلمي میدان کښې د بریا تر لاسه کولو خوشحالي، د فصل د رسېدو خوشحالي، د ښکار د نیولو خوشحالي، د کوژدې او وادهٔ خوشحالي، غرض دا چې په انساني ژوند کښې داسې بې شمېره وختونه راځي چې انسان خوشحالي کوي. اکثرا وختونو کښې انسانان د خوشحالي اظهار په سندرو او مېلو باندې کوي، د خوشحالي پر موقعه د یو خپل نیشت والے یې هم په خندا خندا کښې سترګې له اوښکو ور ډکوي او د داسې صورت حال اظهار هم بیا په سندرو کښې کوي. د انسان په ژوند کښې د وادهٔ خوشحالي هم یوه داسې خوشحالي ده چې انسانان یې په ټنګ ټکور، ګډا او سندرو لمانځي او د دې لمانځنې دپاره یې یو شمېر سندرې تخلیق کړې دي. پښتانهٔ هم د وادهٔ خوشحالۍ په دغه دود لمانځي. پښتنو ښځمنو په وادهٔ او د وادهٔ په رسوماتو کښې د زمزمه کولو دپاره یو مخصوص صنف د بدلو رغولے دے چې د ښادیو بدلې یې بولي. د ښادیو بدلې هغه سندرې دي چې یوازې او یوازې په وادهٔ او د وادهٔ په مراسمو کښې ویل کېږي په نورو خوشحالیو کښې نه ویل کېږي. د نکریزو شپه، د ورا شپه، د کاوین د تړلو وخت، د ناوې د را ولاړولو وخت، د ناوې په نوي کور کښې د کښېنولو وخت او د ناوې د سر د وودولو وخت کښې دا بدلې ویل کېږي. له دې علاوه یې نه وایي. د خوشحالیو موقعې ډېرې وي خو د ښادیو بدلې صرف په وادهٔ کښې او د وادهٔ سره تړلو رسوماتو او رواجونو پر وخت ویل کېږي.

محمد داؤد وفا په دې هکله وایي چې؛

،، د ښادۍ سندرې د پښتنو ښځمنو له خوا د واده په مراسمو کې ویل کېږي. نه یوازې په ځانګړې توګه د واده په مراسمو کې بلکې د واده په ټول بهیر یعنې د مرکې له پیله بیا د ناوې د راوستو تر ورځو.،، (محمد داؤد وفا، د فولکور پېژندنې لارښود، (۸)

**د ښاديو د بدلو سکښت او جوړښت**

د خوشحاليو پر وخت پښتنې ښځې ښېلا ښېلې سندرې په خپلو خوږو غږونو کښې زمزمه کوي، هر رنګه خوشحالي چې وي په سندرو يې لمانځي. په مجموعي توګه پښتانهٔ د ژوند خوند و رنګ په ټنګ ټکور زياتوي، د چا د زوکړې خوشحالي وي که د يو ښهٔ فصل د پرې کولو وخت وي پښتانهٔ بدلې وايي او دغه بدلې په ښېلا ښېلو هيئتونو کښې شته. د بدلو يو مخصوص هيئت دے چې صرف په ودونو کښې او د وادهٔ سره په تړلو رسمونو کښې ويل کېږي، هم دغه بدلې د ښاديو د بدلو په نوم ځانته ولسي صنف دے. که څهٔ هم سيال کاکړ دوه مصرعه ييزې بدلې هم يادوي چې دے يې يو بيتيزې بدلې بولي او ورسره د يو نيم بيتيزې ذکر هم کوي. دغه د سيال کاکړ يو نيم بيتيزې بدلې هغه درې مصرعه ييز صنف دے چې د خپل ځانګړي جوړښت له کبله يو ځانګړے ژانر ګڼل کېدا ے شي. دغه ځانګړے ژانر د ښاديو د بدلو په نوم مسما دے.

د ښاديو بدلې درې مصرعې لري، هره مصرعه يې اتهٔ سېلابه وي اود هر پل دريم سېلاب يې درونډ وي خو کله کله يې يو لابله مصرعه اووهٔ يا بيا کله نهه سېلابه هم کېدا ے شي. لومړۍ او دريمه مصرعه يې په قافيه سره ورته وي خو د منځ يعني دويمه مصرعه يې بې قافيې وي. د کاکړيو په څېر د ښاديو بدلې هم رديف کله لري کله نهٔ خو قافيه عموماً لري. د همدغه کاکړيو غاړو په څېر کله کله بې قافيې هم وي خو اهنګ او وزم يې برابر وي. اصلاً د دې سيمې فولکلوري اصناف پر قافيه او وزن نهٔ بلکې پر اهنګ اډانه لري. په دې سيمه کښې د اهنګ دپاره يو مخصوص ټکے (لکب) استعمالېږي. دلته د فولکلوري اصنافو د رغېدو معيار وزن او قافيه نهٔ بلکې لکب وي. د لفظونو کميت نه بلکې کيفيت په پام کښې ساتل کېږي.دلته معيار خولهٔ ده، چې په خولهٔ کښې سم ويل کېدو، چې پر ژبه په رواني اوښت بس هم هغه بيا دلته سم ګڼل کېږي.

اوس به د ښاديو د بدلو په جوړښت د سر خلاصولو دپاره د يو څو بدلو تقطيع وکړل شي چې خبره سپينه شي.

وروره لاس کـــــــــــــه پــــــــــــه کښـــــــــــــوړه
کـــــــــــه اصـــــــــــيل غمـــــــــــے راکـــــــــــاړه

خــــــور ده ځــــــــي د پــــــــلار لــــــــه کــــــوره
(سیال، فولکلوري جواهر، ۱۱۲) (۹)

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ورو | ره | لاس | که | په | ک | ښو | ړه | ۰۸ |
| که | ا | صیل | غ | مے | را | با | سه | ۰۸ |
| خور | ده | ځي | د | پلار | له | کو | ره | ۰۸ |

زومــــــــه ښـــــه ښایســـــــته ناســـــــت یـــــــې
مـــــــوړ بـــــــه تـــــــه نـــــــه وې پـــــــرې ایښـــــــی
د اشـــــــنای لـــــــه رویـــــــه خـــــــلاص یـــــــې
(سیال کاکړ، فولکلوري جواهر، ۹۲) (۱۰)

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| زو | مه | ښه | ښا | ي | سته | ناست | یې | ۰۸ |
| موړ | به | ته | نه | وې | پرې | ي | ښے | ۰۸ |
| د | اش | نای | له | رو | یه | خلاص | یې | ۰۸ |

پـــــــر کـــــــور دوه زرغونـــــــه شـــــــاله
چـــــــي فلانـــــــے ورتـــــــه ولیـــــــاړ دے
لاس بـــــــه نـــــــه وروړي لـــــــه خیالـــــــه
(سیال کاکړ، فولکلوري جواهر، (۱۱)

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پر | کور | دوه | زر | غو | نه | شا | له | ۰۸ |
| چي | فلا | نے | ور | ته | و | لیاړ | دے | ۰۸ |
| لاس | به | نه | ور | وړي | له | خیا | له | ۰۸ |

## د ښادیو د بدلو صنفي مقام او ادبي ارزښت

د ښادیو بدلې د پښتو شفاهي ادب یو باقاعده منظوم ژانر دے چې د ښځو له خوا په ودونو کښې وړاندې کېږي. لیکنے ادب که د یو فرد د شخصي ژوند هینداره او د هغه د ارمانونو، احساساتو او جذباتو عکاس دے نو فولکور بیا د ولس د اجتماعي ژوند، د هغو د ارمانونو عکاسي کوي. که وغوښتل شي چې د یو ولس په نفسیاتو، د هغوے په ورځني ژوند او د هغوے په لاشعور کښې د پرتو ارمانونو پته ولګول شي نو به د هغه اولس اجتماعي تخلیق

فولکلور ته رجوع کېږي. هر هغه ارمان او خواهش چې په عادي ژوند کښې يې اظهار نۀ شي کېدا ے د هغه اظهار هنرمندان په خپل تخليق کښې کوي. د ښاديو بدلې د پښتو شفاهي ادب هغه پانګه ده چې د ښځمنو له خوا تخليق کېږي. دغه بدلې د پښتنو ښځو د سپېڅلو احساساتو اينه دارې دي. د ښځمنو د ورځني ژوند ناخوالې، د ژوند د بېلا بېلو پېښو په وړاندې د هغوے عکس العمل، او د هغوے فکر و اندېښنې د ښاديو په بدلو کښې ښه په خوند ښکاري. زوم او ناوې ته د هغوے پېرزوينې، د هغو د کورنيو درناوے او وياړ دغه بدلې په خپله لمن کښې رانغاړي.

نـــــــــــاوګي دے کـــــــــــه امېــــــــــــل دے کـــــــــــه
کــــــــــه امزولګـــــــــــي درتــــــــــه ناســــــــــتي
پــــــــــه زړا يــــــــــه زړه نــــــــــرے کـــــــــــه
(مرکه) (۱۲)

يا دا بدله

نــــــــــاوګي يــــــــــوړې اوبــــــــــوړې يــــــــــووړې
پخپــــــــــل کــــــــــي ده ځــــــــــاے نــــــــــه و
څــــــــــي پرديــــــــــو راڅــــــــــه يــــــــــووړې
(مرکه) (۱۳)

کوم ارزښت چې په پښتو ادب کښې د ټپې، کاکړۍ يا چاربيتې دے هم دغه ارزښت د ښاديو د بدلو دے. لکه څنګه چې د ښاديو د بدلو بغير ودونه پردي او پيکه ښکاري هم دغسې د ښاديو د بدلو د ذکر پرته د شفاهي ادب هر تحقيق او هر اثر نيمګړے او بې خونده وي.

**د ښاديو د بدلو ويونکي**

د ښاديو بدلې يو زوړ فولکلوري صنف دے چې د ودونو د مراسمو پر موقع د ښځو له خوا په ډېر شوق او په ډېر جوش سره ويل کېږي.

,, د وادۀ سندرې هم زمونږ د اولسي ادب يوه برخه ده. دا هغه سندرې دي چې د ښځو له خوا د وادۀ د دستور په مختلفو وختونو او موقعو وئيلے کېږي. دا سندرې هم د ښځو له خوا جوړې شوې دي.،، ( شاه جهان، پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه، (۱۴)

د ښاديو بدلې له پخوا څخه سينه په سينه له يوۀ نسل څخه بل ته را روانې دي. په دې بدلو کښې پښتنې ښځينه د خپلو احساساتو اظهار کوي او خپلې خوشحالۍ په اهنګينه ژبه لمانځي. ښځې چونکې د رسم و رواج په پاللو کښې ډېرې تکړه وي بلکې که دا وويل شي غلط به نۀ وي چې د هر رسم و رواج ابتدا به له ښځو کېږي، د ودونو پر موقع هم په کورنۍ کښې ښځې د وادۀ تر ورځې له مخه او وروسته بېلا بېل رسومات لري چې د سيمو په ترځ کښې يو له بله لږ څۀ توپير سره لري. د دغه رسمونو لمانځل هم په سندرو کېږي. د کورنۍ ښځې په جوش او ولولې سره دغه د خوښۍ شېبې سندريزې کوي. لکه څنګه چې د رسمونو پېل ښځو کړے دے او تر اوسه يې لا دوے پالي نو هم دغسې پر دې موقعه ويل کېدونکې سندرې د دوے تخليق دے او هم يې په خپل لکب و کمپوز کښې پخپله وړاندې کوي. دغه سندرې د ښاديو بدلې دي.د هم دې بدلو په مرسته دوے د خپلو زړونو درد او خپل احساسات تر نورو رسوي. په دې اړه سيال کاکړ وايي چې

,, څه وخت چې پښتنې پېغلانې په ښاديو کې د دغو جالبه بدلو په وئيلو پيل وکي نو د اورېدونکي احساسات په غورځنګ راولي.،، (سيال کاکړ، فولکلوري جواهر، (۱۵)

زموږ له ميندو څخه راپاته دغه فولکلوري ميراث نن هم زموږ په کلو او بانډو کښې د پښتنو پېغلو له خوا ډېر په خوند اورول کېږي. د ښاديو د بدلو که موږ موضوعاتي جايزه واخلو هم نو صرف هغه موضوعات پکښې موندل کېږي چې په کورني محيط کښې دننه اورېدل کېږي. د پښتنو ښځې اکثره په کورونو کښې وي ځکه د دوے دغه تخليق کړې بدلې هم له دغه کورني چاپېريال څخه الهام اخلي. که چيرې دا د نارينه تخليق واے نو بيا به په دې کښې د بهرني محيط رنګونه هم خامخا تر سترګو کېدل خو دلته خبره اپوټه ده او د دې دليل پر بنياد موږ دا خبره په ډاګه کوو چې دا د ښځمنو پر پښتو ولسي ادب احسان دے لکه سيال کاکړ چې وايي؛

,, د ښاديو بدلې د بې سوادۀ مېرمنو له خوا جوړې سوي او همدوے به دغه خوندورې بدلې راتلونکي نسل ته د يو درانۀ سوغات په ډول په ميراث کې پرېږدي. زموږ ښځې دا حق لري چې د ښادۍ بدلې خپل مورنے ميراث وبولي.،، (سيال کاکړ، فولکلوري جواهر، (۱۶)

**د ښادیو د بدلو مرکزونه**

د پښتو فولکلورسټ سیال کاکړ د ښادیو د بدلو مرکزونه او ساحې څۀ داسې بیان کړې دي؛

„ د ښادۍ بدلي د لوړے کندهار په تاریخي خاوره کي پیل سوي او بیا یې د وخت د تېرېدو سره پراختیا میندلې ده. زما په عقیده ژوب، بوري، پښین، کوټه، زیارت، کندهار، غزني، پکتیا، پېښور، زابل او وردګ د ښادیو د بدلو مرکزونه پاته سوي دي. ،، (سیال کاکړ،فولکلوري جواهر، (۱۷)

سیال کاکړ صاحب د ډېرو سیمو ذکر کړے دے خو بېلګې یې نۀ دي ورکړې. د ښادیو د بدلو د مرکز یا د پیل ځاے او تون د معلومولو دپاره له موږ سره في الحاله صرف یوه وسیله ده او هغه د پخپله د ښادیو بدلې. د ښادیو بدلې که موږ له دوو لاړو وګورو نو موږ ته به څرګنده شي چې دا د کومې سیمې صنف دے. یو دے د دې بدلو جوړښت او بل دے د دې بدلو ژبه. جوړښت ته که یې وګورو نو موږ ته به څرګنده شي چې دا د کاکړۍ غاړو د مصرعو پر وزن مصرعې لري. د سېلابو تعداد او د درانۀ سېلاب ځاے یې کټ مټ یو دے، که فرق شته نو صرف دا دے چې کاکړۍ دوې مصرې لري خو د ښادیو بدلې درې مصرې لري. د دې سیمې یو بل مشهور صنف د اتڼ نارې دي، د اتڼ په نارو کښې هم دریم سېلاب دروند دے. د هرې سیمې د لهجې چونکي خپل خصوصیات وي. په الفاظو کښې د خج او دروندوالي یو جلا نظام لري ځکه یې موږ د بلې سیمې د لهجې څخه په اساني بېلولاے شو. داسې ښکاري چې د اتڼ نارې، کاکړۍ غاړې او د ښادیو بدلې د یوې سیمې څخه دي. د یوې لهجې چاپ دے ورباندې ځکه خو د دې درې سره اصنافو په مصرعو کښې په هر پل کښې دریم سېلاب لاژمي دروند دے. له دې سره سره یې یو بل لوے مماثلت دے چې د دې اصنافو د یوې سیمې څخه د زېږېدو دلیل دے او هغه مماثلت دے په مصرعو کښې د سېلابو د تعداد زیات و کم کېدل.د اتڼ غاړې عموماً دواړه مصرعې اتلس و اتلس سېلابه وي خو کله کله اتلس و اوولس یا اتلس و نونس وي، کاکړۍ غاړې عموماً اتۀ و اتۀ سېلابه لري خو کله اتۀ و نهه یا اووۀ و اتۀ هم شي، هم دغه شان د ښادیو بدلې عموماً په هره مصرعه کښې اتۀ سېلابه لري خو کله کله اووۀ یا نهه هم شي.

اوس که موږ د کاکړیو غاړو او د اتڼ د نارو مرکز ژوب، بوري، زیارت او کلاسیف الله منو نو به ارو مرو د ښادیو د بدلو مرکز هم دغه سیمې ګڼو.

دویم که موږ د ښادیو د بدلو ژبه وګورو هم نو د کاکړۍ غاړو او اتڼ د نارو په څېر د بوري، ړوب، زیارت او کلاسیف الله د سیمې سیمه ییز لغتونو به پکښې ووینو چې دا هم پر دې دلیل ورکوي چې دشفاهي ادب دغه درې مصرعه ییز صنف، د ښادیو بدلې هم د دې سیمې پیداوار دے هم دغه سیمه یې مرکز دے.

**پایله:**

د ښادیو بدلې پښتو شفاهي ادب یو مخصوص صنف دے چې د ښځو له خوا د وادهٔ یا له وادهٔ سره تړلو مراسمو پر وخت ویل کېږي. ټولې درې مصرعې لري چې هره یوه اتهٔ و اتهٔ سپلابه وي، کله کله یې په مصرعه کښې د سپلابو شمېر شا و مخ ته شي او اووهٔ یا نهه شي. په هر څلورو سپلابو کښې یې دریم درووند دے. د خج، لغتونو او نورو ژبنیو ځانګړتیاو له پلوه کاکړۍ غاړو او د اتڼ نارو سره نژدې والے لري. موضوعات یې د کورني چارپېریال شا و خوا چورلي. اره سیمه یې بورے، زیارت، کلا سیف الله، ړوب، مسم باغ او هرنایي ده.

## حوالې


1. سیال کاکړ، فولکلوري جواهر(۱۹۷۹ء) پښتو اکېډمی کوټه، ۱۱۲م مخ
2. هم دغه اثر، ۱۵م مخ
3. بېنوا، عبدالرووف، ادبي فنون(۱۳۸۳هـ ش) پښتو ټولنه کابل، ۳۳م او ۳۴م مخ
4. ګل سانده، چاوتره، زیارت، وخت ماخوستن لس بجې، ۱۵ اګست ۲۰۲۳
5. حبیب الله رفیع، د خلکو سندرې(۱۳۴۹ هـ ش) د افغانستان اکادمي د تاریخ او ادب ټولنه، ۷۶م مخ
6. ازمون، لعل باچا، پښتو فولکلوري ادبیات(۱۳۹۵هـ ش) پکتوس خپرندویه ټولنه، ۲۳۲م مخ
7. http://shpelay.blogfa.com/post/60
8. محمد داؤد وفا، د فولکور پېژندنې لارښود(۲۰۱۳)،ختیځ اکاډمي ننګرهار، ۱۰۷م مخ
9. سیال کاکړ، فولکلوري جواهر(۱۹۷۹ء) پښتو اکېډمی کوټه، ۱۱۲م مخ
10. هم دغه اثر، ۹۲م مخ
11. هم دغه اثر، ۷۱م مخ
12. ګل سانده، چاوتره، زیارت، وخت ماخوستن لس بجې، ۱۵ اګست ۲۰۲۳
13. ایضاً
14. شاه جهان، پښتو ادب کې د مېرمنو برخه(۱۹۹۳ء) پښتو اکېډمي پېښور، ۶۲م مخ
15. سیال کاکړ، فولکلوري جواهر(۱۹۷۹ء) پښتو اکېډمی کوټه، ۳۴ مخ
16. هم دغه اثر، ۱۶م مخ
17. هم هغه اثر، ۱۶م او ۱۷م مخ


**References**


1. Siyal Kakar, Folklori Jawahir, 1979 A.D., Pashto Academy Quetta, p. 112
2. Same source, p. 15
3. Benawa, Abd-ur-Rawoof, Adabi Funoon, 1383 H., Pashto Tolana Kabul, p. 33, 34
4. Gulsanda, Personal communication, Chawatra, Ziarat, 10:00 P.M 15th August 2023
5. Habibullah Rafi, Da Khalko Sandari, 1349 H.,Da Afghanistan Academy Da Tareekh ao Adab Tolana, p. 76

**6.** Azmoon, Lal Bacha, Pashto Folklori Adabiyaat, 1395 H., Paktiwis Khparandoi Tolana, p. 232
7. http://shpelay.blogfa.com/post/60
**8.** Muhammad Dawood Wafa, Da Folklore Pezhandani Larshod, 2013 A.D , Khateez Tolana Ningarhar, p 107
**9.** Siyal Kakar, Folklori Jawahir, 1979 A.D., Pashto Academy Quetta, p. 112
**10.** Same Source, p. 92
**11.** Same source, p.71
**12.** Gulsanda, Personal cummunication, Chawatra, Ziarat, 10:00 P.M 15th August 2023
**13.** Same Reference
**14.** Shah Jahan, Pashto Adab ki Da Mermano Barkha, 1993 A.D, Pashto Academy Peshawar, p. 62
**15.** Siyal Kakar, Folklori Jawahir, 1979 A.D., Pashto Academy Quetta, p. 34
**16.** Same source, p. 16
**17.** Same source, p. 16 and 17